يـــونـامـــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندويه پلاوي دفتر
دستراتيژيکو اړيکو دفتر
د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته د ځانګړي استازي وينا
www.unamanews.org/pashto

**د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته د افغانستان لپاره د دغه سازمان د عمومي منشي د ځانګړي استازي نيکولاس هيسم وينا هغسې چې وويل شو**

**نيويارک، د ډسمبر ۱۸ نيټه**

ښاغلی رييس، د شورا محترم غړي،

غواړم چې په افغانستان کې د ملګرو متلونو د کورنی په استازيتوب د پاکستان له خلکو سره خپلي د زړه له کومي د غمرازۍ شريکولو پيل کړم چې دوه ورځې مخکې له لويې ملي تراژيدي سره مخامخ شول. د ښوونځي پر ماشومانو بريدونه هيڅکله د توجيه وړ نه دي.

ښاغلی رييس،

د امنيت د شورا په وروستي غونډه کې، د ټاکنو پايلي لا اعلان شوې نه وې او افغانستان د يوه پراخ سياسي بحران په منځ کې و. زه خوښ يم چې له هغه وخته د مهمو پرمختګونو راپور ورکوم. په سياسي هوکړه لاسليک شوی دی، د ولسمشرۍ او د ولايتي شوراګانو د ټاکنو ګټونکي نوماندان اعلان شول، او حکومت د حکومتداري په برخه کې د اصلاحاتو د يوه پراخ پروګرام ژمنه کړې ده.

يوناما د سوله ييز سياسي بدلون په ذريعه ډير هڅول شوې ده. که څه هم ټاکنيزه پروسه ډير دوامداره او ستونزمنه وه، د هغې په پايله کې داسي يو مشرتابه رامنځ ته شو چې له مشروعيت او پراخ ملاتړ څخه برخمن دی او نوي صلاحيتونه لري. ولسمشر غني او اجراييه رييس عبدالله د ستايني وړ دي چې د خپلو پرلپسي ژمنو په ذريعه د ملي يو والي د اداري لپاره زمنيه برابره کړه. هغه همکاري چې دوي د خپلو ژمنو په پايله کې رامنځ ته کړې ده، د دوي په نظر يو تحميلي امر نه بلکه د دوي خپل انتخاب دی. د عمومي اهدافو په يو والي او د اصلاحاتو لپاره ژمنتيا، له فساد سره مبارزه او د دوامداره اقتصادي ودې لپاره د دوي ګډې هڅې په افغانانو کې نوې هيلي او څرګندې هيلي او تمې راپيدا کړي.

سياسي تړون د ټاکنو له پانو څه د سل فيصده تفتيش وروسته رامنځ ته شو. دغه ستونزمن تمرين چې له عيبونو څخه خالي نه و، داسي طرح شوی و، چې هر اړخيز، بشپړ، خپلواک او څرګند وي. دغه پروسه، که څه هم له نيمګړتياوو سره مله وه، خو د نړيوالو معيارونو سره برابره وه او نه د چا په پلوي او نه له قاعدې څخه وتلې ده او د سياسي تړون لپاره يې بنسټ جوړ کړ چې له هغې وروسته جوړ شو.

ښاغلی رییس،

یوناما په دې باور ده چې د ملي یو والي د حکومت څخه پرته بله ښه لار نه وه. د دوو نوماندانو ترمنځ تړون یو داسې سیاسي بحران پای ته ورساوه، چې که دوام یې موندلای وای افغانستان به په دوو برخو ویشل شوی و او حتی د پخوانیو شخړو دوران به بیا را ژوندی شوی و. ولسمشر غني او اجراییه رییس عبد الله درک کړې وه چې دغه وخت د سیاسي لوبو په ځای سیاسي بصیرت ته اړتیا لري او دوي پخپله ویلي دي چې له داسې یوه انتخاب سره مخامخ و چې یا به په جلا جلا ډول ډوبیدل او یا به یې په ګډه لامبو کوله.

زه اوس له دواړو سیاسي مشرانو څخه غوښتنه کوم چې د حکومتي لوړ پوړو چارواکو د ګمارلو او منظوري پروسه بشپړه کړي. یوه کابینه چې په سیاسي لحاظ له دواړو خواوو څخه استازیتوب وکړي او په عین وخت کې د وړتیا پر بنسټ جوړه شوې وي، کولای شي د افغانستان په خلکو کې دغه یقین پیاوړی کړي چې حکومت د خپلو ژمنو د پوره کولو نیت لری. دغه کابینه به وښیي چې د ملي یو والي د حکومت لپاره تیاری روان دی او د دې څرګندویې کوي چې حکومت د خپلو دندو لپاره تیار دی.

ښاغلی رییس،

د افغانستان په اړه د لندن له کنفرانس مخکې، په نړیواله ټولنه کې ډیری کسان له دې پوښتنې سره بوخت وو، چې د دې حکومت بریاوې به څنګه پیمانه کیدای شي. په عموم ډول په دې ټکي هوکړه شوې وه چې حکومت باید د نویو ریفورمونو په اړه څرګندې ژمنې وکړي او دغه راز نړیواله ټولنه هم باید له افغان حکومت سره خپلې دوامدارې ژمنې بیا تایید کړي. زه په دې خوشحال یم چې تاسې ته د دغو دواړو هدفونو په اړه د پوره کیدو راپور درکوم. د حکومت له خوا په جوړه شوې لیکنه "په خپل ځان د ویسا پیدا کول" کې د ریفورمونو په اړه ډیر جدي، ژور او اړین پروګرام ځای شوی دی. په لیکنه کې په عمومي احتساب، شفافیت او بشري حقونو باندې ټینګار کول هغه مسلې دي چې افغان مدني ټولنه د هغو غوښتنه کوي.

د دې لپاره چې د لندن د کنفرانس په ذریعه جوړه شوې فضا وساتل شي، افغان حکومت باید داسې ګامونه اوچت کړي چې اوسنی مالي او بودجوي ستونزې هوارې کړي. څرنګه چې د عوایدو په غونډولو کې کمښت راغلی، مالي وضعیت ښایي په هغه کچه ښه نه وي لکه څنګه چې د لندن په بحثونو کې توضیح شوی دی. په نوامبر کې د دونرانو د بیړنیو مرستو په ذریعه حکومت وکولای شو چې تر ډسمبر پورې خپلې مالي ستونزې رفع کړي. خو اساسي ستونزه لا پر ځای پاتې ده. ډیرې زیاتې هغې د بل کال بودجې لپاره پاتې شي. دغه وضعه دوامداره نه ده او د دې خطر لري چې حکومت خپله پرمختیایي اجنډا پریږدي او بې ثباتي رامنځ ته کړي. نړیواله ټولنه باید د افغانستان له حکومت سره کار وکړي او داسې مشخص اقدامات عملي کړي چې د حکومت د ریفورم اجنډا پلې شی، تر هغو چې د لندن له کنفرانس څخه وروسته د لوړې کچې غونډه بیا جوړیږي.

نوي حکومت د دې ژمنه کړې ده چې قانوني، موسساتي او په پالیسي پورې تړلې ریفورمونه عملي کړي څو هغه په سختې سره لاس ته راغلې بریاوې وساتي چې د ښځو د حقونو په برخه کې شوې دي. یوناما په دې ټینګار کوي، چې د ښځو د حقونو ساتل او پرمختیا د سولې او پرمختګ لپاره یو بنسټیز ګام دی. په دې اړه، زه د ولسمشر غني له هغې ژمنې هرکلی کوم چې یو زیات شمیر لوړ پوړې څوکی به د ښځو لپاره ځانګړې کوي.

د فساد په وړاندې د حکومت له خوا لومړنی اخيستل شوي ګامونه بايد وستايل شي. دغه اقدامات د ملي يو والي د حکومت اراده څرګندوي څو هغو کسانو ته جزا ورکړي، څوک چې ملي منابع د خپلو شخصي ګټو په ځېر اړوي. دغه هڅې بايد له اقدماتو سره ملې شي د مخ پر زياتيدونکي ناقانونه اقتصاد او د نشه يي توکو له سوداګري څخه راپيد شوې منفي اغيزې کمې کړي. زه په دې برخه کې له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر د اجراييوي مشر ښاغلي يوري فيدوتوف ته بلنه ورکوم چې خپلې تبصرې وړاندې کړي.

ښاغلی رييس،

لکه چې په سيمه کې د ولسمشر د وروستيو ښکيلتياو په لړ کې يې پخلی شوی دی، نوی حکومت د ګاونډيو هيوادونو سره د اړيکو د تقويه کولو اهميت درک کړی دی. افغانستان د خپل جغرافيايي موقعيت له مخې په سيمه ييزه وده او ټيکاو کې خورا مهم نقش لري. دا هېواد د منځنۍ او سهيلي اسيا تر منځ د يوه طبيعي ممکنه ځمکني پل په توګه دی. يوناما به د افغانستان د شمالي ګاونډيو سره د دې لپاره کار وکړي څو هغوې په دې باوري کړي چې د هغوي امنيتي انديښنې د افغانستان سره د نښلولو او سوداګرۍ د لارې په ښه توګه حل کيدلای شي نه داچې هغوي پولې ټينګې کړي.

موږ په دې باوري يو چې د اززبايجان، چين، پاکستان او ترکيې سره وروستنی موافقې او د انرژۍ او ترانسپورټ د سيمه ييزې شبکې پراختيا کولای شي چې د افغانستان او د هغه د ګاونډيانو سره دسوداګرۍ او همکارۍ په لړ کې زياتوالی را ولي. دا به پخپل وار د کار او دولتي عوايدو په برخه کې چټکوالی راولي او په پايله کې به يې ټيکاو زياتوالی وموومي. د دغه ډول فرصتونو رامنځته کول خيرات او هديه نه ده، بلکې دا د افغانستان د ګاونډيانو لپاره د هغوي په ګټه ده.

د پکن وروستنی اعلاميې پخپل وخت د افغان مشرتابه لاندې د پخلاينې لپاره سيمه ييز ملاتړ ته پاملرنه وشوه . دا د دې واقعيت منل دي چې د سولې د هر ډول بهير لپاره د سيمه ييزو ګډون والو ملاتړ اړين دی. د چين د نوې ښکيلتيا څخه په لړ کې بايد چې هرکلی وشي. د ولسمشر غني له خوا د پاکستان څخه ليدنه چې د کابل او اسلام اباد ترمنځ د لوړو پوړو رسمي چاراوکو د ليدنو په تعقيب وشوه د دې لپاره يې زمينه مساعده کړه چې لا زيات اغيزمن او وړاندې ته په کتنې سره ډيالوګ رامنځته شي او دا به د دواړو هيوادونو ترمنځ د اساسي کار او نږدې همکارۍ لپاره اساس شي.

ښاغلی رييس،

ټيکاو او نيکمرغي د ټل پاتې سولې په نشتوالي کې په اسانی سره نه شي تر لاسه کېدلای. بالاخره په افغانستان کې د شخړې حل سياسي دی او نه نظامي. ولسمشر غني پخپله دا واضحه کړه او هغوي ته چې د دولت پرخلاف دي بلنه يې ورکړه چې د شخړې د حل لپاره افغان خپل منځې ډيالوګ کې شامل شي. د دولت او د وسله وال اپوزيسيون ترمنځ د افغان مشرتابه لاندې د سولې د بهير د لارې د مستيقم ډيالوګ لپاره د ژمنې هرکلي کيږي. يوناما د افغان مشرتابه د لارې د پخلاينې او سياسي بهيرونو ملاتړ کولو ته چمتو ده او د افغانستان د حکومت سره په بشپړه مشوره کې به ټول اړخونه د دې د ملاتړ لپاره را ښکيل کړي.

هغه وحشت ناکه بشري بيه چې د افغانستان عام وګړي يې زغمي د شخړې د سوله ييز حل د غوښتنې پخلی کوي. لکه چې د نوومبر تر ۳۰ نيټې پورې يوناما د ۲۰۰۸ کال راهيسې [ له کوم وخت څخه چې يې ثبت پيل شوی] د بل هر بشپړ کال د

مودې په پرتله زیاتې ملکي مړینې او ژوبلې سږکال ثبتې کړې دي. ملکي تلفات په مجموع کې د تیر کال په پرتله ۱۹ سلنه زیات شوي دي چې د ماشومانو په برخه کې په کې د ۳۳ سلنې ارقامو زیاتوالی راغلی دی. دغه تلفات زیاتره د شخړې د اړخونو تر منځ د ځمکنیو نښتو، د ځاي پرځاي کیدونکو چاودیدونکو توکو، د ځانمرګو او پیچلو بریدونو په پایله کې رامنځته شوي دي چې د دولت ضد ځواکونو له خوا پر لاره اچول شوي دي.

د مارکیټونو په محلاتو، د ناچاودو توکو د پاکونکو ماین پاکانو، او په بیلابیلو د ورزشي لوبو او په فرهنګي محفلونو باندې د بریدونو زیاتوالی د دولت ضد عناصرو په روش او تاکتیک کې د بدلون ښکارونديه دی. د بیلګې په توګه د نوامبر په ۲۳ نیټه هغه ځانمرګي برید چې د ګڼې ګوڼې په هغو کسانو تر سره شو چې د پکتیکا په ولایت کې یې د والیبال د لوبې ننداره کوله او په پایله کې یې ۵۳ ملکیان و وژل شول چې په کې ۲۱ تنه یې ماشومان وو.

له هغه ځایه چې افغان امنیتي ځواکونه د ملکي وګړو د ساتنې مشرتوب پر غاړه اخلي ، نړیوال ځواکونه باید چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو سره یو ځاي دې ته ادامه ورکړي چې پر ملکي وګړو باندې د شخړې ناوړه اغیزې راکمې شي.

زه کولای شم د دې راپور ورکړم چې یوناما خپلو هڅو ته ادامه ورکوي څو د طالبانو سره د ملکي تلفاتو د مخنیوي د مسوولیت د مهمې موضوع په اړوند ښکیل و اوسي.

ښاغلی رییس،

د ایساف د ماموریت د پای ته رسیدو سره، زه غواړم چې د ټولو ونډه ورکوونکو غړو هیوادونو د برخې اخیستنې مننه وکړم او هغوي ته چې د یوه سوله ییز او د خپلواک حاکمیت لرونکي افغانستان لپاره یې قربانۍ ورکړې دي خپل د درناوي مراتب څرګند کړم.

حکومت د هېواد د امنیت لپاره بشپړ مسوولیت پر غاړه اخیستی دی. د افغانستان امنیتي ځواکونه د اوږیکی د ننګوونو په پوره هو ډ او زړه ورتیا سره، خو په لوړه بیه مقابله کوي. په دې اړوند د ناټو او د افغانستان د حکومت هغه ګډه پریکړه چې د ملاتړ یو ثابت ماموریت به د ۲۰۱۵ کال د جنوری د لومړی نېټې څخه رامنځته کړي چې د دغه پلاوي د ملاتړ لپاره د دې شورا پریکړه خورا مهمه ده. متداومه او دوړاند وینې وړ نړیواله امنیتي مرسته حیاتي ده.

په وروستیو کې په امنیتي پیښو کې زیاتوالی د اندیښنې وړ دی. دا به لاتر مخه وي چې و ارزوله شي چې ایا دغه زیاتوالی پر دې مهال دی چې نړیوال نظامي ځواکونه په وتو کې دي او یا هم دا چې " نوی نورمال" دی. یوناما خپل امنیتي تدابیر ارزوي خو د دې سره خپل فعالیتونه نه راکموي.

ښاغلی رییس،

کله چې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو لپاره په ګڼه شمیره کې افغانانو خپلې رایې وکارولې نو هغوي په دې باور وو چې ټاکنې به دوي ته ښه راتلونکې ور په برخه کړي. د سیاسي بن بست د حل په تعقیب ډیرو د دموکراتیک بهیر ارزښت تر پوښتنې لاندې ونیو. نو له همدې امله دا د حکومت مسوولیت دی چې افغان رایه ورکوونکي په دې قانع کړي چې په سمه توګه د اصلاحاتو د لارې به ټاکنیزې درغلۍ راکمې شي.

یو له هغو اقداماتو څخه چې حکومت یې باید تر سره کړي هغه د پارلماني او د ولسوالیو د کچې د شوراګانو د ټاکنو لپاره د واقعي نیټو د اعلانولو د لارې دټاکنیز مهالویش باوري کول دي. موږ د دې یادښت کوو چې هغه سیاسي موافقه چې د دواړو

له خوا لاسليک شوې ده په کې د ولسي جرګې او ولسواليو د شوراګانو د ټاکنو تر مخه چې په ۲۰۱۵ کال کې متصورې دي په هر اړخيزو ټاکنيزو اصلاحاتو تاکيد شوی دی. موږ حکومت په کلکه دې ته هڅوو څو د دې فرصت څخه په ګټې اخيستنې سره چې د اصلاحاتو د دې بهير په ترڅ کې رامنځته کيږي افغان وګړي د شفافيت او د مشورو د لارې په کې راشامل کړي څو په ټاکنيزو موسسو باندې د هغوي باور بښه والی ومومي.

ښاغلی رييس،

زه غواړم د خپل سلف، د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي ښاغلي يان کوبيش څخه مننه وکړم چې د ليږد د خورا مهم پړاو په دوران کې يې د يوناما مشري وکړه، هغه يو داسې پلاوې ترشا پريښود چې د افغان وګړو له خوا ورته په ډير درنښت سره کتل کيږي.

په تير و ۱۳ کلونو کې نړيوالې ټولنې په بې ساري ډول له افغانستان سره – نظامې، مالي او سياسي ملاتړ تر سره کړی دی. د سياسي او امنيتي ليږدونو د پای سره د ملاتړ مفهوم او شکل به حتمي تحول او بدلون ومومي، تر ټولو مهمه داچې دغه شورا به په راتلونکي کال کې د يوناما پر واک د سره غور کوي. هغه څه چې تغيير به ونه کړي هغه د يوه سوله ييز، خپلواک او د لا زيات نيکمرغه او غوړيدلي افغانستان ګډ هدف دی.

ستاسې له پاملرنې مننه

***

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**

For more information, please contact: Spokesperson-UNAMA@un.org

UNANMA online: http://unama.unmissions.org • Facebook • Twitter • Flickr • YouTube